***FOR IMMEDIATE RELEASE***
August 26, 2012
Contact: Adisa Busuladzic
Phone: +93 (0) 702 63 63 28
Email: ABusuladzic @usaid.gov

# رسنيزه خبرتيا

## د افغانستان او متحده ایالاتو دولتونو په هیواد کې د موبایل له لارې د پیسو د لیږد د خدمتونو د پراختیا زمینه برابره کړه

**کابل، افغانستان | د ۲۰۱۲ د اګست ۲۶ مه نېټه:-** د افغانستان او متحده ایالاتو دولتونو نن په کابل کې د موبایل له لارې د پیسو د لیږد د خدمتونو په اجرائیوي سیمینار کې د بنسټیزې پانګونې په توګه د نوموړو خدمتونو پر ارزښت بیاټینګار وکړ او پدې موخه یې ددې خدمتونو د یوه ځو اړخیز کاري پلان ملاتړ وکړ چې ښایي په افغانستان کې له اقتصادي پلوه د یوازنیو مناسبو مالي خدمتونو په توګه د موبایل له لارې د پیسو د لیږد د خدمتونو د پراختیا زمینه برابره کړي.

د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیر ښاغلي امیرزي سنګین د موبایل له لارې د پیسو د لیږد د خدمتونو د کاري پلان څخه د ملاتړ د څرګندولو تر څنګ د خپلو خبرو له لړ کې وویل:" افغان دولت اوس د چټک پرمختګ لپاره داسې یوه تګلاره لري چې کولای شي د افغانستان د مخابراتي سکتور د دوامداره ودې سره مرسته وکړي او همدارنګه شفافه او اغیزمنو مالي خدمتونو ته د افغانانو د لاسرسي زمینه برابره کړي."

پداسې حال کې چې په سلو کې له پنځو څخه لږ افغانان بانکي حسابونه لري، شاوخوا ۶۰ سلنه افغانان بیا ګرځنده ټلیفونونه لري او د افغانستان د نفوس ۸۳ فیصده وګړي په هغو سیمو کې اوسېږي چېرې چې مخابراتي شبکې فعالې دي.

د متحده ایالاتو د سفارت د پرمختیایي او اقتصادي چارو د همغږۍ مشرې آغلې هیلدا اریلانو د خپلو څرګندونو پرمهال وویل:" مونږ په افغانستان کې د موبایل له لارې د پیسو د لیږد د خدمتونو د یوه مسلم بریالیتوب شاهد یو چې پر بنسټ یې د پیسو د راکړې ورکړې په چارو کې شفافیت زیات شوی او هغو کسانو ته د مالي خدمتونو زمینه هم برابره شوې چې تر دې پخوا ترې بې برخې وو. "

ټاکل شوې چې د کاري پلان محتوا او مواد به پدې سیمینار کې د ۷۰ څخه د زیاتو ګډونوالو او د دولتي او خصوصي سکتور د اړوندو ادارو او همدارا ز نړیوالې مرستندویه ټولنې لخوا عملي شي.

د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د افغانستان د پرمختګ په برخه کې د پانګونې لپاره د مالي لاسرسي پروژه ( فایده)، چې ۵ میلیونه ډالره بودجه لري، د موبایل له لارې د پیسو د لیږد د نوښتیزه پروګرامونو د جوړولو سره مرسته کوي او په افغانستان کې د اقتصادي ودې لپاره د یوه کتلست په توګه دنده ترسره کوي.

\# # #

د امریکا د نړیوالې پرمختیایي ادارې د پروګرامونو په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ:

http://afghanistan.usaid.gov

USAID on Facebook | USAID on Twitter | USAID on YouTube | USAID on Flickr